# دفولکلور پس منظر:

د فولکلور کلمه د نولسمي پېړۍ له نیمایي څخه وروسته ولې دومره ژر عامه شوه او په لوید یځو ټولنو کښې له تود هرکلي سره مخامخ شوه؟ کچیري موږ د نولسمې پېړۍ د نیمایي جریانات په تاریخ کښې پسې وپلټو نو دا به راته جوته شي چي دا وخت د کارګرانو او زیارایستونکو پرګنو د ویښتیااو پاڅون دوران دی.د فولکلور کلمې له وضع کېدو نه لاپوره دوه کاله نه وو تیرشوي چي کارل مارکس او فریډریک انګلیس (د کمونیستې ګوند مانیفستو) ولیکله او د اتلس سوه اته څلویښتم کال په پیلامه کې یې له چاپه را وایسته.کارګري نهضتونو اروپایي ترقۍ غوښتونکي روښنفکران او همدارنګه بورژوا ایډیالوجستان دې ته وهڅول چي د خلګو پرګنې ، د دوی سیکالوجي ، د هغو د کړو وړو انګېرنو اوقوت سرچینې وپیژني. د لوړې طبقې د آدابو او مشخصاتوپه نسبت د عوامو د کرکټر ،غوښتنو او ارمانونو د تشخص او تحلیل خواته پام واوښت همدا وجه وه چي د سیاسي فعالیتونو ترڅنګ فولکلوري او انتروپالوجیکي څېړنو هم پراختیا و مونده.

اما د دې خبري معنا دا نه ده چي ګویا لرغونو فیلسوفانو او بشردوستو پوهانو د خلګو د پرګنو په کړو وړو او هلو ځلو باندي څه نه دي لیکلي او یا یې هغو ته پاملرنه نه ده کړې له ډېرو لرغونو تاریخي زمانو څخه ځینومورخانواو د عوامو د فرهنګ

ځېړونکو د خلکو د دودونو ، انګېرنو او شفاهي ادبیاتو په باره کې په منسجم یا پراګنده ډول یادونې کړې دي.دا به له انصاف څخه لیري وي که د فولکلوري موضوګانو او مسایلو په باره کې د لرغونوحکماوو او تاریخ لیکونکو علاقه مندی ته په ارزښت قایل نه شو د مثال په توګه د مورخانو پلار هیروډتس ،لیوي او پلیني په لرغوني یونان او روم کې د خلکو عقایدو او دودنو ته د تاریخي او کلتوري مسایلو د روښانولوپه منظور اشارې کړې وې.